# د اسلام د بري زيري

ليکوال:
ډاکټر محمد بن عبدالله الدويش

ژباړن:
عبدالمالک (همت)

**د کتاب نوم:** د اسلام د بري زېري

**اسم الكتاب بالعربية:** البشائر بنصرة الإسلام

**ليکوال:** ډاکټر محمد بن عبدالله الدويش

**ژباړن:** عبدالمالک (همت)

**موضوع:** د اسلامي عقيدې مجموعه

**د چاپ شمېر:** لومړي (ډيجيتال)

**د چاپ تاريخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچينه:**

**دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا ليک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

| | |
|---|---|
| www.mowahedin.com | www.aqeedeh.com |
| www.videofarsi.com | www.islamtxt.com |
| www.zekr.tv | www.shabnam.cc |
| www.mowahed.com | www.sadaislam.com |

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**لیکلړ ........................................................................ أ**

**د ژباړن څو لنډې څرګندونې ............................................................ ۱**

**د کتاب د لیکوال په هکله څرګندونې.................................................... ۳**

(أ) ژوند او تحصیل یې: ................................................................ ۳

(ب) عملي کارونه یې: ................................................................. ۳

(جـ) په رسمي او تخصصي ټولنو کې غړیتوب یې: .............. ٤

(د) لیکنې او تالیفونه یې:................................................................ ٤

**سریزه ........................................................................ ٦**

**لومړی: د قرآن کریم زیري ............................................................ ۸**

۱- د دین غلبې، ظهور او خپرېدو ته اشاره:........................ ۸

۲- مومنانو ته د نصرت او بري ژمنې:............................................ ۹

۳- په مځکه کې د مومنانو د غښتلتیاژمنه: ........................... ۱۱

٤- د کافرانو د مکرونو ضعف او د هغو د تلاښونو ناکامۍ ته اشاره: ............................................................ ۱۱

**دوهم: د نبوي سنتو زیري............................................................ ۱۵**

لومړی ډول: د اسلام د بري په هکله مطلق زیری: .............. ۱٥

دوهم ډول: په ځانګړو حالاتو کي د اسلام د بري د زېري احاديث:.......................................... ۲۰
د مهدي احاديث: ................................................۲۵
**دريم: نور زېري................................................. ۲۸**
په دې باندي د پوهېدو اغېز چي راتلونکې د اسلام ده........... ٤۲
**د ژباړن لنډه پېژندنه ........................................... ۴۸**

## قرآنی مرغلري

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝٨ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ۝٩﴾ [الصف: ٨-٩].

ژباړه: «دوی غواړي چي د خُولو په پوکلو سره د الله (د دين) رڼا مړه کړي، او د الله پرېکړه داده چي خپله رڼا بشپړه خپره کړي که څه هم د کافرانو دا هر څونه بده ايسي (الله) هغه ذات دی چي خپل پېغمبر يې له هدايت او حق دين سره لېږلی دی، تر څو هغه پر ټولو دينونو لاسبری کړي، که څه هم دا مشرکانو ته هر څوني بد ښکاري».

## ډالۍ

د اسلام د سپېڅلي دین د هغو اتلانو ارواوو ته یې د رحمت لېږلو، دعاګانو او درناویو سره ډالۍ کوم، چې ځلاندو کارنامو یې د اسلامي تاریخ پاڼې تر نن مهاله ښکلي ساتلي دي او بیا به یې هم ښکلي وساتي.

**عبدالمالک (همت)**

# د ژباړن څو لنډي څرګندوني

د لوی څښتن تر حمدونو او د هغه پر سپېڅلي پيغمبر او نوروټولو انبياوو او اولياوو او د اسلام د لاري پر مبارزينو او مجاهدينو باندي تر درودونو او سلامونو وروسته وايم چي د يوې ډېري ويرجني شپې په سهار چي پر زړه مي د غمونو توري لوخړي را خپرې سوي وې او زماغوندي ډېرو نورو هم همدغه حال وو، زما په کمپيوټر کي په اچول سوې (المکتبة الشاملة) کي ګرځېدم چي نابېره مي د «البشائر بنصرة الإسلام» (د اسلام د بري زېري)کتاب پر دغه ښکلي او خوندور سرليک باندي سترګي ولګېدې. کتاب مي پرانيست او ښه ډېر مي ولوست او د زړه د غمونو بار او غبار مي يوڅه په سپک او ليري کړ.

د دغي شپې په ورځ چي مي هر څه پر زړه تېر سول، خو تېر سول، اما متوجه سوم چي دغه کتاب دي بې څه په مخه نه دی درغلی. ځکه مي نو و پتېيل چي لومړی دغه کتاب زه پخپله ښه ولولم او له زړه او سترګو مي د وير اورېځي او باران د هيلو او اميد په پسرلي راوستو ليري کړم او بيا يې په ژباړلو سره نورو زما غوندي ويرژلو ته د تسليت او غمرازۍ ډالۍ کړم. نو دغه ده د دغه کتاب پښتو ژباړه ويې لولئ، د خپل وير او نهيلۍ توري لوخړي بري ته د رسېدو په شنه آسمان بدلي کړئ او په نوي ځواک او په لازياتو هلوځلو سره لاس په کار سئ، زموږ او ستاسي هغه ذاتﷻ مل او

ملګرى دى چې ويلي يې دي چې خپله رڼا په بشپړه توګه خپروي که څه هم د کافرانو هر څونه بده ايسي والسلام.

**ستاسی د دعاوو هيله‌من**
**عبدالمالک همت، د ده افغانانو**
**نوآباد، کابل، د ۱۳۹۰ل. کال د**
**دغوايي ۳۱مه**

# د کتاب د لیکوال په هکله څرګندوني

## (أ) ژوند او تحصیل یې:

د دې کتاب لیکوال او د اسلام داعي او د ښووني او روزني د چارو کارپوه ډاکټر محمد بن عبدالله بن إبراهیم الدویش په ۱۳۸۳/٦/۲٤هـ تاریخ د سعودي عربستان په الزلفی کي زیږېدلی دی. د ثانوي زده کړو د پای ته رسېدو سند یې له المعاهد العلمیة څخه په ۱٤۰۱هـ کال تر لاسه کړ. لیسانس یې د اسلامي اقتصاد په څانګه کي د سعودي عربستان د امام محمد بن سعود د اسلامي پوهنتون دشرعیاتو له پوهنځي څخه په ۱٤۰۵هـ کال تر لاسه کړ. بیایې له نوموړي پوهنتون څخه په ښوونه او روزنه کي په ۱٤۱۵هـ کال عام دپلوم ترلاسه کړ. ورپسې یې له همدغه پوهنتون څخه په ۱٤۲۲هـ کال په ښوونه او روزنه کي د ماسټرۍ سند په لاس راوړ، او په ۱٤۲۸هـ کال یې له همدغه پوهنتون څخه د دکتورا سند واخیست.

## (ب) عملي کارونه یې:

- له ۱٤۰۵هـ څخه تر ۱٤۱٦هـ.کال پوري یې د ریاض په معهد إمام الدعوة العلمي کي د تدریس چاري پر غاړه لرلې.
- له ۱٤۱٦هـ څخه تر ۱٤۱۷هـ کال پوري یې د امام محمد بن سعود د اسلامي پوهنتون د ښووني په څانګه کي د (معید استاد) په توګه دنده ترسره کړې ده.

- له ١٤١٧هـ.كال څخه يې دامـام محمـد بـن سـعود د اسـلامي پوهنتون پـه إدارة تطـوير الخطـط والمنـاهج كـي د منـاهجو (د تدريسي لاروچارو) دڅېړونكى په توګه دنده تر سره كړې ده.

## (جــ) په رسمي او تخصصي ټولنو كي غړيتوب يې:

- له ١٤١٥هـ څخه تر ١٤١٧هـ كـال پـوري د دروكـالو لپـاره د الجمعية السعودية للعلوم التربوية والنفسية (جستن) غـړى، او همدا راز پـه دغـه مـوده كـي د اللجنـة التربويـة لمنـاهج العلـوم الشرعية في المعاهد العلمية غړى پاته سوى دى.
- له ١٤٢٢هـ څخه تر ١٤٢٣ هـ. كال پـوري د العمـل والشـؤون الاجتماعية په وزارت كي د لجنة الإرشاد الاجتمـاعي مستشـار او د ښووني د وزارت د الأسر الوطنية لمناهج العلـوم الشـرعية د څانګي غـړى او د دغـه وزارت د اللجنـة العلميـة فـي العلـوم الشـرعية فـي المشـروع الشـامل لتطـوير المنـاهج غـړى او د التأليف للعلوم الشرعية في المرحلة الثانوية د ډلي رئيس وو.
- او تر اوسه د موقع المربي د انټرنيټي پاڼي مشري پر غاړه لري.

## (د) ليكني او تاليفونه يې:

تر اوسه يې په بېلا بېلو دعوتي او تربيوي برخو كـي اتيـا سـي ډېر ګاني ثبت كړي، (١٥) عنوانه كتابونه يـې ليكلـي، بـېلا بېلـو اسـلامي مجلوته يې مقالې وركړې او د سعودي د ښووني او روزنـي د وزارت او دامام محمد بن سعود د اسلامي پوهنتون د تاليف او د منـاهجو د

تعدیل په ټولنو کې یې کار کړی او ډېرې تربیوي غونډې یې هم دایرې کړې دي.

# سریزه

إنّ الحمد لله، نحمده ونستعينه، ونستغفره ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يُضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

اما بعد:

نن مهال د اسلامي امت حال هر چا ته څرګند دی او دا هم څرګنده ده چې اسلامي ټولنه له هغه څه څخه چې د لوی څښتنﷻ خوښه ده څونه لیرې سوې ده؟ په دې هکله زیاتو څرګندونو او ثبوتونو وړاندې کولو ته څه اړتیا نسته. ځکه دا خبرې له هیچا څخه پټې نه دي. خو لکه چې لیدل کیږي د دې واقعیتونو په وړاندې له ځینو غیرتمنو خلکو څخه د سم مسیر او تګ لورې پر لور د اسلامي ټولنې د بیا ورګرځېدو په هکله نهیلي او ناامیدي څرګندیږي. ځکه دوی ویني چې له یوه لورې دښمنان د اسلام سره په جګړه کې او د هغه د بلونکو او دعاتو په وړاندې زښت زیات وران کاري کوښښونه کوي او له بله لورې ګوري چې خلک د لوی څښتن له دین څخه ورځ تر بلې لیرې کیږي او په ډېرو کې د حق پالنې او رشتیا ویلو احساس مړ سوی دی. له بله پلوه هم دوی ویني چې دښمنان له هره لورې ویښ او څارو دي او چې مسلمانان د خپل تېر مجد او سترتوب د بیا اعادې لپاره څه کوي، د هغو په وړاندې ډول ډول خنډونه رامنځ ته کوي. البته دغه د یأس او نهیلۍ احساس که څه هم

په واقعیت او عمل کې څه اغېزه نه ښندي، خو بايد لـه منځـه يـووړه سي، ځکه دا د کتاب او سـنتو د لارښـوونو سـره مخالفـه چـاره ده او سمون نه ورسره لري. دا څنګه کېدای سي چې يو څوک دې د اسـلام داعي وي او بيا دې لټـی او نهيلـی تـه تسـليم سـي؟ پـه ټولنـه کـې لـه هلوځلو لاس واخلي او د هغه چا سره چـې د سـمون او بـدلون لپـاره تلاښونه کوي خپله مرسته وسپموي؟

له دې امله پر موږ باندې لازمه ده چې د دغسي ناسـمو انديښـنو د خاوندانو د دغسي افکارو د بدلون په موخه لاس په کار سو او ور تـه ووايو چې هر څونـه چـې د امـت حالـت بـد او خـراب هـم سـي او د دښمنانو مکرونه تر دې لا زيات سي، بيا هم راتلونکې د لوی څښـتن د سپېڅلي دين ده او وروستی بـری، عـزت او غلبـه د لـوی څښـتن د اوليـاوو او د هغـه د ښـو او غـورو بنـده ګـانو ده. پـر دې بنسـټ دغـه کتابګوټی چـې تاسـې يـې لـولئ د قـرآن کـريم او نبـوي سـنتو د هغـو نصوصو په باب ليکل سوی دی چې زېری ورکـوي چـې راتلـونکې د اسلام ده او عزت او غلبه د خدای د سپېڅلي دين په برخه ده.

لوی څښتنﷻ دې وکړي چې هغه څوک چې دغه کتابګوټې لولي او يايې اوري ګټـه ځنـې واخلـي او زمـوږ د نېکيـو پـه تلـه کـې يـو څـه ورزيات کړي.

## لومړی: د قرآن کریم زېري

### ۱– د دین غلبې، ظهور او خپرېدو ته اشاره:

لوی څښتن فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٣٣﴾ [التوبة: ٣٣].

ژباړه: «الله هغه دی چې خپل پېغمبر يې د هدايت او حق دين سره لېږلی دی تر څو چې هغه پر ټولو دينونو لاسبری کړي، که څه هم دا مشرکانو ته هر څوني ناکاره برېښي».

دغه راز فرمايي:

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩﴾ [الصف: ٨-٩].

ژباړه: «دوی غواړي چې د خُولو په پوکلو سره د الله (د دین) رڼا مړه کړي، او د الله پرېکړه داده چې خپله رڼا بشپړه خپره کړي که څه هم د کافرانو دا هر څونه بده ايسي. (الله) هغه ذات دی چې خپل پېغمبر يې د هدايت او حق دين سره لېږلی دی، تر څو هغه پر ټولو دينونو لاسبری کړي، که څه هم دا مشرکانو ته هر څوني بد ښکاري».

همدا شان فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٢٨﴾ [الفتح: ٢٨].

ژباړه: «الله هغه ذات دی چې خپل پيغمبر يې د هدايت او رشتيني دين سره ليږلی، تر څويې پر ټولو دينونو لاس برى كړي او الله د شاهد په توګه بس دی».

## ۲- مومنانو ته د نصرت او بري ژمني:

لوی څښتن فرمايي:

﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠﴾ [الحج: ۳۹-۴۰].

ژباړه: «هغو خلكو ته اجازه وركړه سوه چې جګړه ورسره كيږي، ځكه چې د دوی سره ظلم سوی دی او په يقين سره يې الله پر مرسته ډېر ښه قادر دی. هغوی چې په ناحقه له خپلو كورونو وايستل سول، يوازې په دې خبره چې دوی وايي: زموږ رب الله دی. او كه الله خلک يو د بل په وسيله نه ايسارولای نو خامخا به خانقاګاني، كليساوې، عبادت ځايونه او جوماتونه نړول سوي وای، كوم چې په هغو كې د الله نوم ډېر ياديږي او الله به خامخا د هغه چا سره مرسته كوي چې د هغه مرسته كوي. بې شكه الله زورور او لاسبری دی».

دغه راز فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمۡنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧﴾ [الروم: ۴۷].

ژباړه: «او رشتيا ده چې موږ تر تا دمخه پيغمبران د هغو خپلو قومونو ته ولږل او د ښكاره نښانو سره ورغلل چې بيا مو له هغو كسانوچې

جرمونه يې کړي وه غچ هم واخيست او د مومنانو سره مرسته پر موږ حق وه».

بيا فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ۝٧﴾ [محمد:٧].

ژباړه: «ای مؤمنانو! که تاسي د الله د دين مرسته وکړئ، هغه به ستاسي مرسته وکړي او پښې به مو ټينګي کړي».

وروسې فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ۝١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ۝١٧٣ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ۝١٧٤ وَأَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ۝١٧٥﴾ [الصافات: ١٧١-١٧٥].

ژباړه: «او بې‌شکه زموږ خبره زموږ د استول سوو بنده ګانو په هکله لا دمخه سوې وه. چي په يقين سره به د هغو خامخا مرسته کيږي او دا چي زموږ لښکر به حتماً لاسبرى وي. نو تر څه وخته له هغو څخه مخ واړوه او هغو ته ګوره. ژر به دوى هم (خپل انجام) ووينې».

په پورتنيو آيتونو کي الله تعالي خبر ورکړی دی چي د ده په مخلوقاتو کي د ده له سنتو او کړنلارو (قوانينو) څخه دادي چي خپل بنده ګان به هرو مرو بريالي کوي، البته چي د ده بنده ګان د ده د دين نصرت ته ملاوتړي او د هغه د بري لپاره هلي ځلي پرلار واچوي. او که کله ناکله له دغه سنت څخه د کوم مصلحت او حکمت لپاره تخلف کيږي، نو دا د دغي قاعدې دماتېدو معنا نه لري. په دې مورد کي بايد وپوهيږو چي اعتبار پايلو ته دی او تل په پايله کي وروستي او اصلي ګټونکي مومنان وي.

## ۳– په مځکه کي د مومنانو د غښتلتیاژمنه:

لوی څښتن فرمايي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٥٥﴾ [النور: ۵۵].

ژباړه: «له تاسي څخه چي کومو کسانو ایمان راوړی او سم کارونه يې کړي، الله وعده ورسره کړې ده چي خامخا به يې په مځکه کي هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي، لکه هغه خلک چي تر دوی دمخه يې خلیفه ګان ګرځولي وه او حتماً به يې هغه دین ورته محکم کړي چي دوی ته يې خوښ کړی او تر بېري وروسته به يې حالت په امن بدل کړي. يوازي مابه لمانځي، هيڅ شی به نه راسره شریکوي او له هغه وروسته چي کوم کسان کافران سول نو فاسقان به وي».

په پورتني آیت کي الله تعالی د مسلمانانو سره ژمنه کړې ده چي دوی به په مځکه کي خلیفه ګان کوي او دین به يې ورته پیاوړی کوي. او الله تعالی هغه ذات دی چي د خپلي ژمني مخالفت نه کوي. په دې صورت کي به نو مسلمانو ته د خدای تر وعده بله پورته هیله څه وي؟

## ۴– د کافرانو د مکرونو ضعف او د هغو د تلاښونو ناکامی ته اشاره:

له هغو خبرو څخه چي ډېر مسلمانان نهيلي کوي يوه داده چي مسلمانان ويني چي کافران سره د دې چي بېل بېل ملیتونه او مذهبونه لري بیا هم د اسلام او مسلمانانو په هکله پر سازشونو او چلونو سره

يو لاس دي او څه پلانونه چي د مسلمانانو سره د جنګ او د هغو د دين او عقايدو د ورانۍ لپاره جوړوي او پلي کوي په هکله يې په يوه زړه او يوه خوله دي. په داسي حال کي چي مسلمانان د هغو له دې پلانونو او سازشونو څخه غافل دي او د دې سازشونو پايلو ته سره د دې چي پرله پسي پلي کيږي او تر سره کيږي نه متوجه کيږي. بالاخره داسي ګڼي چي مسلمانان چي د خپل تېر سترتوب او عظمت د بيا راګرځېدو لپاره هرڅه کوښښونه کوي د کفارو د سختو ګواښونو سره مخامخ کيږي او په نطفه کي يې خنثی کوي او دښمنان د دوی د ډلو د بېلتون سره سره د مسلمانانو له هيڅ خوځښت او ويښتيا څخه يوه شيبه هم سترګي نه پټوي. نو ای مسلمانه وروره! زما سره دغه آيتونه ولوله او فکر پکښي وکړه.

لوی څښتن فرمايي:

﴿وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ٤٨ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٤٩ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٥٠ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٥١ فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥٢﴾ [النمل: ٤٨-٥٢].

ژباړه: «په هغه ښار کي نهه قبايلي مشران وه چي په هيواد کي يې فساد خپراوه او کوم داصلاح کار يې نه کاوه. هغوی په خپلو منځو کي سره وويل په خدای باندي په قسم خوړلو سره ژمنه وکړئ چي موږ به دشپې له مخي په ير غل کولو سره صالح او دهغه کورنۍ ووژنو او بيا به دهغه ولي ته ووايو چي موږ دهغه دکورنۍ دوژني په وخت کي موجود نه وو، موږ بيخي رښتيا وايو. دا دسيسه خو هغو جوړه کړه او بيا موږ يو

تدبير ونيوه چي هغوی ورڅخه خبر نه وه. اوس وګوره چي دهغو د دسيسې عاقبت څه سو، موږ هغوی او د هغو ټول قوم تباه کړل. دغه دهغو تش پراته کورونه دي، دهغه ظلم له امله چي هغو کاوه په دې کي دعبرت يوه نخښه ده. د هغو خلکو لپاره چي علم لري».

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةً ثُمَّ يُغۡلَبُونَۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ ٣٦﴾ [الأنفال: ٣٦].

ژباړه: «کومو خلکو چي دحق له منلو څخه انکار کړی دی هغوی خپلي شتمنۍ دخدای له لاري څخه دمنع کولو لپاره لګوي او اوس به يې لازيات لګوي، خو په پای کي به همدا هلي ځلي دهغو لپاره د پښېمانتيا سبب وګرځي، بيا به هغوی مغلوب وي، بيا به دا کافران د دوږخ لوري ته محاصره سوي ورسي».

همدا شان لوی څښتن فرمايي:

﴿إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ١٥ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ١٧﴾ [الطارق: ١٥-١٧].

ژباړه: «يقيناً دوی څه چل جوړوي او زه هم يو پلان جوړوم، نو کافرانو ته مهلت ورکړه (او) لږ يې پرېږده».

﴿ذَٰلِكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيۡدِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٨﴾ [الأنفال: ١٨].

ژباړه: «دا معامله خو له تاسي سره ده او له کافرانو سره معامله داده چي الله د هغو د چلونو کمزوری کوونکی دی».

نو دغه کفار چي هر څوني د لوی څښتن د دين په مقابل کي مکرونه او چلونه پرلار واچوي او هر څوني شته چي د هغه سره د

جګړې لپاره ولګوي، بيايې هم لوی څښتن څاري او دوی د مخه تـر دې چې د مسلمانانو دښمنان سي د لـوی څښـتن دښـمنان دي، لکـه چې لوی څښتن فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ﴾ [الممتحنة: ١].

ژباړه: «ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، زما او د خپلو دښمنانو سره دوستي مه کوئ».

په دې توګه لوی څښتن دوی لومړی د ځـان دښـمنان وبلـل او بيـا خپل پيغمبر ته فرمايي:

﴿فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَـٰكِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ٣٣﴾ [الأنعام:٣٣].

ژباړه: «خو دا خلک تا نه درواغجن کوي، بلکي دا ظالمان اصلاً دالله له ايتونو څخه منکرېږي».

## دوهم: د نبوي سنتو زېري

دا خو ځیني هغه زیري وه چې د لوی څښتن په کلام، قرآن کریم کې راغلي دي. خو د نبوي سنتو هغه احادیث چې دغسې زېري پکښې راغلي دي کېدای سي پر دوو ډولو ووېشل سي.

### لومړی ډول: د اسلام د بري په هکله مطلق زېری:

۱- د دې زېري په هکله دې مبارک حدیث ته پام وکړئ:

عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الْأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَلَا يَتْرُكُ اللَّهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ هَذَا الدِّينَ بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ عِزًّا يُعِزُّ اللَّهُ بِهِ الْإِسْلَامَ وَذُلًّا يُذِلُّ اللَّهُ بِهِ الْكُفْرَ»[١].

---

١- أخرجه أحمد ١٠٣/٤، والحاكم ٤٣٠/٤، بمعناه وابن منده في الإيمان ١٠٨٥، والطبراني كما في المجمع ١٤/٦، وقال «رجاله رجال الصحيح» وقال الحاكم على شرط الشيخين ونقل الألباني في تحذير الساجد ١٧٣ عن الحافظ عبدالغني المقدسي أنه قال حسن صحيح. وقال وهو على شرط مسلم. وله شاهد من حديث المقداد. أخرجه أحمد ٤/٦وابن منده ١٠٨٤، والطبراني كما في المجمع ١٤/٦، وقال رجاله رجال الصحيح. وقال الألباني هو على شرط مسلم. (د پورته ټکو مطلب په لنډه توګه دا دی چې پورتنی حديث صحيح دی).

ژباړه: حضرت تميم الداريﷺ وايي چي ما له رسول اللهﷺ څخه واورېدل چي ويل يې: دغه دين به تر هغو ځايونو ورسيږي چي شپه او ورځ ور رسيږي. الله تعالى هيڅ ښار، کلى او بېديا او کږدۍ او خېمې نه پرېږدي چي دغه دين ورونه رسوي. هرکور به لوى ښتن د دغه دين په قبلولو سره معزز کړي او څوک چي د دغه دين له منلو څخه ډډه وکړي لوى ښتن به يې خوار او ذليل کړي (د اسلام په وړاندي د جنګ جګړې له امله به خوار سي، څو اسلام مني). الله به هغه قوم چي اسلام د هغه په منلو سره معزز کړي د عزت ښتن کړي او کفر به د اسلام د نه منلو له امله خوار کړي.

۲- عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزَّى فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللَّهُ:

﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ۝٩﴾ [الصف: ٩].

أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا قَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ يَبْعَثُ اللَّهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيَبْقَى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ»[۱].

ژباړه: له حضرت بي بي عايشېرضي الله عنها څخه روايت دى چي ويې ويل: ما له رسول اللهﷺ څخه واورېدل چي شپه او ورځ به پاى ته

---

۱- صحيح مسلم، كتاب الفتن واشراط الساعة، باب لاتوم الساعة حتى تعبد دوس ذا الخلصة، ٥٢ – (٢٩٠٧) حديث.

ونه رسيږي چي د لات او عزا بتانو لمانځنه ونه سي. ما عرض وکړ چي اى د لوى څښتن استازې کله چي لوى څښتن دغه آيت نازل کړ:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩﴾ [الصف: ۹].

«الله هغه ذات دى چي خپل پېغمبر يې له هدايت او حق دين سره ليږلى دى، تر څو هغه پر ټولو دينونو لاسبرى کړي، که څه هم دا مشرکانو ته هر څوني بد ښکاري».

نو ما وګڼل چي اوس دين بشپړ سو (يعني نور به نو کفر او شرک نه وي) هغه وفرمايل د الهي مشيت (خوښي او ارادې) سره سم به داسي څه کيږي. خو بيا به الله تعالى يوه خوشبويي لرونکې پاکه هوا ولېږي چي له امله به يې هر هغه څوک ومري چي په زړه کي يې د ايمال يوه ذره وي او داسي خلک به پاته سي چي هيڅ خير به پکښي نه وي، نو دغه خلک به د خپلو پلرو او نيکه ګانو دين ته وروګرځي.

په دې حديث کي د نبوي زېري شاهد د «تَامًّا» کلمه ده، يعني لوى څښتن پر ټولو اديانو باندي د دې دين چي اسلام دى د ظهور او غلبې ژمنه کړې ده چي دا به هرو مرو تحقق مومي.

**۳**- عَنْ حُذَيْفَةُ قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَكُونُ النُّبُوَّةُ فِيكُمْ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا عَاضًّا فَيَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ

يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»[1].

ژباړه: حضرت حذيفة بن اليمانﷺ فرمايي چي رسول اللهﷺ وفرمايل: په تاسي کي به تر هغو چي د خدای خوښه وي نبوت وي، خو بيا چي لوی څښتن وغواړي وابه يې خلي. بيا به د نبوت د دود او طريقې سره سم خلافت وي. دا به تر هغه مهاله وي چي د لوی څښتن اراده وي. بيا چي وغواړي پای ته به يې ورسوي. بيا به غاصبه واکمني وي. دا به هم تر هغه مهاله وي چي د لوی څښتن اراده وي. بيا چي الله وغواړي پای ته به يې ورسوي. بيا به د جبر او ظلم واکمني وي. دا به هم تر هغه مهاله وي چي د لوی څښتن اراده وي. بيا چي الله وغواړي پای ته به يې ورسوي. ورپسې به د نبوت پر طريقه خلافت وي. بيا حضرت رسول اکرمﷺ پټه خوله سو.

٤- په دې هکله د الطائفة المنصورة (د بريالۍ ډلي) په هکله احاديث هم د پام وړ دي. په اسلام کي د منصوري او بريالۍ ډلي په باب زيات شمېر صحابهٔ کراموﷺ د رسول اللهﷺ احاديث روايت کړي دي چي ځيني يې په صحيحينو (بخاري او مسلم) کي راغلي دي. د ثوبانﷺ په حديث کي چي مسلم روايت کړی دی داسي راغلي دي:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَذَلِكَ»[1].

---

١- الطيالسي ٤٣٨ مخ، أحمد ٢٧٣/٤ مخ، او د مجمع الزوائد په ١٨٨/٦ مخ کي وايي چي رجال يې ثقات دي. همداراز دغه حديث د احاديثو نامتو کره کوونکي علامه الباني هم صحيح بللی دی.

رسول اللهﷺ فرمايي: زما د امت يوه ډله به تل د حق پر سر او د حق لپاره په برياليتوب سره ټينګه ولاړه وي. دوی ته به د هغه څه ضرر چي د دوی مخالفت کوي ور ونه رسيږي. تر څو چي د لوی څښتن حکم رسيږي دوی به پر دغه حال وي.

رشتيا هم کله چي مسلمان د دغسي ډلي دغه اوصاف اوري نو د زړه له کومي هيله کوي چي له دغي ډلي څخه واوسي او د دوی سره يو ځای د لوی څښتن د دين د نصرت او بري او د کلمة الله د اعلا لپاره په جګړه او هلو ځلو کي برخه واخلي. په دې توګه د مسلمان دا هيلي د هغه په زړه کي د حماسو او د لوی څښتن دين ته د دعوت لمبې بلې کړي او غواړي چي د ناجيه طايفي (اهل سنت والجماعت) پر طريقه دې چاري ته په ټينګه ملا وتړي.

۵- په دې هکله د دې امت د غوره بللو احاديث دي. له دې جملې څخه د انس بن مالکﷺ حديث دی:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ مَثَلَ أُمَّتِي مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرَى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَوْ آخِرُهُ»(۲).

ژباړه: انس بن مالکﷺ روايت کوي چي رسول اللهﷺ وفرمايل: زما د امت مثال د اورښت د څاڅکو غوندي دی، څوک نه پوهيږي چي لومړی يې غوره دی که وروستی.

---

۱- مسلم، کتاب الامارة، باب قوله «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ»، ۱۷۰-(۱۹۲۰) حديث.

۲- دغه حديث أحمد ۱۳۰/۳، ترمذي ۲۸۳۳، ابن حبان ۲۳۰۷، او أبو يعلی ۴۹۱/۶، روايت کړی، الباني صحيح بللی دی او أحمد ۳۱۹/٤ بې د عمارحديث د شاهد په توګه وړاندي کوي.

٦- دغه راز رسول اللهﷺ فرمايي:

«بَشِّرْ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِالسَّنَاءِ وَالنَّصْرِ وَالتَّمْكِينِ فَمَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ عَمَلَ الْآخِرَةِ لِلدُّنْيَا لَمْ يَكُنْ لَهُ فِي الْآخِرَةِ نَصِيبٌ».

ژباړه: دغه امت ته د لوړتيا، بري او ځواکمنۍ زېری ورکړئ، نو څوک چي د آخرت کار د دنيا مونډلو په موخه وکړي په آخرت کي به کومه برخه نه لري.

٧- بل هم په دې هکله د مجدد د پاڅېدو حديث دی. دغه حديث حضرت ابوهريرهؓ داسي روايت کړی دی:

عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»(١).

ژباړه: رسول اللهﷺ فرمايي: لوی څښتن دې امت لره د هرو سلو کالو(هري پېړۍ) پر سر باندي کله چي اسلامي علم او د نبوي سنتوپوهه لږ سي او جهل او بدعتونه ډېر سي داسي يو څوک (يا کسان) پاڅوي چي د دغه امت دين ور نوی او تجديد کړي، يعني سنت له بدعت څخه بېل کړي، علم خپور او زيات کړي، بدعتونه قلع او قمع کړي او بدعت خپروونکي او د هغو پالونکي له دې چارو راوګرځوي.

## دوهم ډول: په ځانګړو حالاتو کي د اسلام د بري د زېري احاديث:

---

١- دغه حديث أبو داود تر٤٢٩١ شمېره لاندي، او حاکم په٥٢٢/٤ مخ کي، اونورو تخريج کړی دی او حاکم، بيهقي، عراقي اوابن حجر صحيح بللی دی. اوسيوطي وايي: «حفاظ پر دې متفق دي چي دغه حديث صحيح دی».

۱- د یهودو سره د جګړې حدیث:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمْ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوْ الشَّجَرُ يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ»[1].

ژباړه: له حضرت ابو هریرهﷺ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: قیامت به نه سي څو مسلمانان د یهودو سره جګړه ونه کړي، نو مسلمانان به یهود داسي ووژني چې یهودي به د ډبري او وني تر شا پټیږي بیا به ډبره یا ونه وایي ای مسلمانه ! او د لوی څښتن بنده ! دلته زما تر شا یهودي پټ دی راسه ویې وژنه. خو د غرقد په نامه ونه به دا خبري نه کوي، ځکه چې هغه د یهودو ونه ده.

۲- د روم (اروپا) سره د جګړې او د قسطنطنیې او روما (ایټالیې) فتح:

امام مسلم په خپل صحیح کي د حضرت ابوهریرهﷺ څخه روایت کوي چې رسول اللهﷺ وفرمایل:

«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنْ الْمَدِينَةِ مِنْ خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ فَإِذَا تَصَافُّوا قَالَتْ الرُّومُ خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ فَيَقُولُ الْمُسْلِمُونَ لَا وَاللَّهِ لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا فَيُقَاتِلُونَهُمْ فَيَنْهَزِمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا

---

۱- بخاري کتاب الجهاد والسیر، باب قتال الیهود، ۲۹۲۶شمیره حدیث او مسلم، کتاب الفتن، باب لا تقوم الساعة حتی یمر الرجل، ۲۹۲۲شمیره حدیث.

وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ أَفْضَلُ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللَّهِ وَيَفْتَتِحُ الثُّلُثُ لَا يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتِحُونَ قُسْطَنْطِينِيَّةَ فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْغَنَائِمَ قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بِالزَّيْتُونِ إِذْ صَاحَ فِيهِمْ الشَّيْطَانُ إِنَّ الْمَسِيحَ قَدْ خَلَفَكُمْ فِي أَهْلِيكُمْ فَيَخْرُجُونَ وَذَلِكَ بَاطِلٌ فَإِذَا جَاءُوا الشَّأْمَ خَرَجَ فَبَيْنَمَا هُمْ يُعِدُّونَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ إِذْ أُقِيمَتْ الصَّلَاةُ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّهُمْ فَإِذَا رَآهُ عَدُوُّ اللَّهِ ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ فَلَوْ تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتَّى يَهْلِكَ وَلَكِنْ يَقْتُلُهُ اللَّهُ بِيَدِهِ فَيُرِيهِمْ دَمَهُ فِي حَرْبَتِهِ»[۱].

ژباړه: تر قیامت دمخه به دا هرو مرو پېښېږي چې رومیان (اروپایان) به اعماق یا دابق[۲] ته رسیږي. بیا به له مدینې څخه د دوی د مقابلې لپاره پوځ ورسي. دا پوځ به دغه مهال د ځمکي د مخ له غورو او سپېڅلو وګړو څخه وي. کله چې دواړه لښکر سره مخامخ سي، نو رومیان به ووایي چې تاسي زموږ او هغو وګړو (مسلمانانو) په منځ کي مه را لوېږئ چې زموږ څخه یې خلک بندیان کړي دي، موږ د هغو سره جنګیږو. خو مسلمانان به ورته ووایي: نه، په خدای که موږ خپل ورونه تاسي ته یوازي پرېږدو. مسلمانان به د هغو سره وجنګیږي، خو د هغو یوه دریمه برخه به ځني وتښتیږي. د هغو توبه

۱- مسلم کتاب الفتن واشراط الساعة، باب في فتح قسطنطنية، ۲۸۹۷شمېره حدیث.

۲- دابق د سوریې د حلب د ښار په شمال کي په تقریباً (٤٥) کېلومتره واټن د ترکیې پولي ته نژدې یو کوچنی کلی دی. د ترکیې پوله له دغه کلي څخه تقریباً (١٤) کېلومتره لیري ده. دغه کلي ته نژدې د عزاز (Azaz) په نامه یوی کلی پروت دی او عمق(اعماق) هم دابق ته نژدې پروت دی.

به لوى ځښتن هيڅكله قبوله نه كړي. او يوه دريمه وكړي به شـهيدان سي چي د لوى ځښتن په نـزد بـه ډېـر غـوره شـهيدان وي. او دريمـه برخه به فتح او برى ترلاسه كړي او هيڅكله به په فتنه اخته نـه سـي. ان دا خلک به قسطنطنيه فتح كړي. بيا به په داسي حال كي چي دوى خپلي توري د زيتون په ونو پوري ځړولي وي او د ولجه سوو مـالونو په وېشلو اخته وي، شيطان بـه نـاري كـړي او وبـه وايـي: ستاسـي پـه كورونو كي خرجدال راڅرګند سوى دى.نو مسـلمانان لـه هغـه ځايـه ووزي، پـه داسـي حـال كـي چـي دا خبـر ناسـم وي. كلـه چـي شـام (سـوريې) تـه ورسـېږي، دغـه مهـال دجـال راڅرګنـد سـي، كلـه چـي مسلمانان جګړې تـه چمتـو سـي او د لمانځـه لپـاره صـفونه برابـروي نـابېره عيسـى ابـن مـريمعليه السلام راكـوز سـي او مسـلمانانو تـه پـه امامـت لمونځ وركړي، ځنګه چي د خداى دښمن خرجدال ووينـي نـو داسـي ويلي سي، لكه مالګه چي په اوبو كي ويلي سـي. كـه عيسـىعليه السلام هغـه همدغسي پرېږدي نو په دې توګه به له منځه ولاړ سي، خو الله تعالى هغه د عيسىعليه السلام په لاس ووژنـي او خلـک د هغـه وينـي د عيسـى پـر وسله ووينې.

دغه راز امام مسلم له حضرت ابوهريرهرضي الله عنه څخه روايت كوي چي رسول اللهصلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«سَمِعْتُمْ بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحَقَ فَإِذَا جَاءُوهَا نَزَلُوا فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ قَالُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا قَالَ ثَوْرٌ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ الَّذِي فِي الْبَحْرِ ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ثُمَّ يَقُولُوا

الثَّالِثَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُوهَا فَيَغْنَمُوا فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمْ الصَّرِيخُ فَقَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ»[۱].

ژباړه: تاسي اورېدلي دي چي يو داسي ښار سته چي يوې څنډې ته يې وچه پرته ده او بلي څنډې ته يې سمندر پروت دی.. صحابهٔ کرامو عرض کړه: هو. بيا هغه وفرمايل: تر قيامت دمخه به پر دغه ښار اويا زره بني اسحاق (عرب) جهاد وکړي. هلته چي ورسي نه به په وسلو وجنګيږي او نه به غشي وولي، بلکي (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) به ووايي او د ښار يوه څنډه په سقوط وکړي. (د دې حديث راوي) ثور نومی وايي چي زما په اند د رسول اللهﷺ دا خبره د ښار د هغي څنډې په هکله ده چي د سمندر خوا ته واقع ده. بيا به دوهم وار (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) ووايي، نو به د ښار بله څنډه راوپرځي، بيا چي دريم ځل (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ) ووايي، نو ښار به فتح سي او مسلمانان به ور ننوزي او په داسي حال کي چي د ولجې مالونه وېشي يوه چيغه به پورته سي چي دجال راوتلی دی، نو مسلمانان به هر څه پرېږدي او بېرته به ستانه سي.

۱- مسلم کتاب الفتن واشراط الساعة، باب في فتح قسطنطنية، ۲۹۲۰شمېره حديث. د يادوني وړ ده چي په دغه حديث کي چي د بني اسحاقو يادونه سوې ده په دې اړه قاضي عياض په إکمال المعلم شرح صحيح مسلم کي وايي چي په ټولو اصولو کي همدغسي ذکر سوي دي، خو ځينو ويلي دي چي معروف او محفوظ يې (من بني اسماعيل) دی ځکه چي پر دې باندي حديث او د هغه سياق دلالت کوي. او له دغو کسانو څخه مراد عرب او مسلمانان دي. او دغه ښار هم قسطنطنيه ده.

دغه راز عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه وايي چي:

بَيْنَمَا نَحْنُ حَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكْتُبُ إِذْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْمَدِينَتَيْنِ تُفْتَحُ أَوَّلًا قُسْطَنْطِينِيَّةُ أَوْ رُومِيَّةُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَدِينَةُ هِرَقْلَ تُفْتَحُ أَوَّلًا» يَعْنِي قُسْطَنْطِينِيَّةَ[١].

ژباړه: موږ د رسول الله ﷺ پر شاوخوا را ټول سوي وو او يو څه مو ليکل چي له رسول الله څخه پوښتنه وسوه چي کوم ښار به لومړی فتح کيږي قسطنطنيه که روم؟[٢]. رسول الله ﷺ وفرمايل: لومړی به د هرقل ښار (يعني قسطنطنيه) فتح کيږي.

**د مهدي احاديث:**

مهدي د لوی څښتن يو صالح خليفه دی چي د هغه په ذريعه به لوی څښتن د خلکو حال له ظلم او تېري څخه عدل، برابری او سمون ته واړوي. د هغه په هکله احاديث په تواتر سره وارد سوي دي او ډېرسترعالمان يې را تلل مني او ټينګار پر کوي. ان چي ډېرو

---

١ - دغه حديث أحمد١٦٧/٢ ، دارمي او ابن أبي شيبة تخريج کړی دی، مقدسي حسن بللی، حالکم صحيح ګڼلی او ذهبي ور سره موافق دی. دغه راز ألباني هم په «السلسلة الصحيحة» ٨/١ کي صحيح بللی دی.

٢- روم، رومية يا روما لکه چي په «معجم البلدان» کي وايي د ايټاليې نننۍ پلازمېنه ده. قسطنطنيه خو د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر وينا اته سوه کاله وروسته د محمد الفاتح عثماني پر لاس فتح سوه او د روم فتح به هم د لوی څښتن په اذن خامخا تر سره کيږي او د دې فتحي خبر به هم په نژدې راتلونکې کي خپور سي، ان شاءالله.

پوهانو او د دين امامانو د هغه د راتلو په هکله بېل بېل کتابونه او رسالې ليکلي دي.

موږ به له دغو زياتو احاديثو څخه د بېلګې په توګه دوه حديثه راوړو.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ: عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنْ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ لَطَوَّلَ اللَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ حَتَّى يَبْعَثَ فِيهِ رَجُلًا مِنِّي يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ ظُلْمًا وَجَوْرًا»[١].

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعودﷺ وايي چي رسول اللهﷺ وفرمايل: که له دنيا څخه بې له يوې ورځي بله ورځ هم پاته نه سي، نو لوی څښتن به دغه ورځ دونه اوږده کړي چي په هغې کي زما له کاله څخه يو سړي وپاځوي. دغه سړی به مځکه له عدل او انصاف څخه داسي ډکه کړي، لکه له ظلم او تيري څخه چي ډکه سوې وي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَهْدِيُّ مِنِّي أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ»[٢].

---

١- أبو داود، کتاب المهدي، ٤٢٨٢ شمېره حديث او ترمذي، کتاب الفتن، باب ما جاء في المهدي ٢٢٣١ شمېره حديث. د حديث صحت ته شيخ الاسلام په منهاج السنة کي او ابن القيم په المنار المنيف کي اشاره کړې ده.

٢- أبو داود، کتاب المهدي، ٤٢٨٥ شمېره حديث او حاکم٤/٥٥٧مخ. د حديث اسناد ابن القيم په المنار المنيف کي جيد بللي او سيوطي يې همېه الجامع الصغير کي صحت ته اشاره کړې ده.

ژباړه: له ابي سعيد الخدريﷺ څخه روايت دی چي رسول اللهﷺ وفرمايل: مهدي زما له اولادې څخه دی روښانه او پراخ تندی به يې وي، جګه پزه به يې وي، مځکه به داسي په عدل او انصاف ډکه کړي، لکه چي له ظلم او بې عدالتۍ څخه ډکه سوې وي. اووه کاله به واکمن وي.

# دریم: نور زیري

دا هغه زیري دي چي د اسلام له طبیعت او په مخلوقاتو کي د لوی څښتنﷻ له فطرت او سنتو او کړنلارو او قوانینو څخه پیژندل کیږي. له دې ډلي څخه لاندي موارد د یادوني وړ دي:

١- د اسلام دین هغه دین دی چي د فطرت سره موافق دی او د خلکو د دې او هغې دنیا مصالحو او ښېګڼو ته تحقق ورکوي. لکه چي څرګنده ده سماوي ادیان ټول منسوخ سوي دي او تحریفونه او بدلونونه پکښي راغلي دي. او د انساني او بشري ټولنو، تنظیمونو او نظامونو د نیمګړتیا او ناکامۍ لپاره دا بسنه کوي چي دا ګرده د بشر په لاس جوړ سوي شیان دي. سید قطب رحمه الله وایي: «د دغه دین د هغي لار ي او طریقې له طبیعت څخه چي دغه دین یې ترسیموي او دغي طریقې ته د بشر له اړتیا څخه موږ ته په یقیني توګه معلومیږي چي راتلونکې د دې سپېڅلي دین ده. او دا دین په دې مځکه کي خامخا نقش او رول لوبوي او دې ته په جدي توګه بلنه ورکوي، دښمنان وغواړي که یې ونه غواړي»[1].

هغه زیاتوي: «موږ باور لرو چي له دې امله راتلونکې د دې دین ده او له دې امله دا د ژوند داسي لار او طریقه باله سي چي پر دې ټولو او یو له بل سره تړلو او نه بېلېدونکو مقوماتو مشتمله ده. دغه

---

١- المستقبل لهذا الدین،٩٣مخ.

مقومات او رغنده توکي د بشر د ژوندانه د بېلا بېلو اړخونو تنظيموونکي دي او د انسانانو د ډول ډول رشتيانيو اړتياوو او غوښتنو جواب ويونکي او د ډول ډول انساني هلو ځلو پلوي دي»[۱].

۲- نن مهال نړی وال د بشري تنظيمونو او نظامونو له افلاس اوناکاره توب څخه سر ټکوي او د انسانيت د دې خواروونکو او بې وزلي کوونکو نظامونو تريخ خوند څکي. نړی والو په دې وروستيو کلونو کي د شوروي او د هغه د ملګرو هيوادونو او د هغو د طاغوتانو حال د سر په سترګو وليد. نن نړی د يوه ژغورونکي په لټه کي ده، خو بې له اسلامه بل ژغورونکی نه تر سترګو کيږي.

۳- دا د لوی ښتن په مخلوقاتو کي د هغه سنت او کړنلار ده چي که څوک کار وکړي او هلي ځلي پرلار واچوي او د خپلي موخي او مقصد د تر سره کولو لپاره خپل وس او طاقت وکاروي هرو مرو خپل هدف ته رسيږي، البته چي ځيني موانع رامنځ ته نه سي. لکه دغه اوسني واکمن ولسونه چي د ډول ډول پيښو او حوادثو سره مخ وه، خو په خپلو هلو ځلو يې د هغو ناوړوحالاتو څخه ځانونه راو ايسل او د همدې اوسنی لوړتيا او سترتوب خاوندان سول. همدغه شان کله چي مسلمانانو د خپلو مادي او معنوي لوړتياوو اسباب برابرول او له خپلي مخي يې خنډونه او موانع ليري کول، د

---

۱- المستقبل لهذا الدين،٥مخ.

لوی څښتن دغه سنت او کړنلار کتې مټ پر دوی هم پلې او تطبیق سوه. البته دوی د دې تر څنګ د لوی څښتنﷻ له مرستي او نصرت څخه هم برخمن وه، ځکه چي دوی د هغه د دین حاملان او د هغه د شریعت پلویان وه.

٤- بل دا چي نن مهال دادی موږ د اسلامي نړۍ په ګوټ ګوټ کي د ډېري ښې او مبارکي اسلامي ویښتیا او د خدای دین ته د رشتیني دعوت او بلني شاهدان یو او خدای ته دي حمد وي دغه ویښتیا او د دعوت کار او هلي ځلي ورځ تر بلي مخ پر زیاتېدو دي.

چي دا پر دې دلالت دی چي دغه مسلمان وګړي د خپل دین ښه پلي کېدو او ملاتړ او نصرت ته ډېر ښه چمتو سوي او را پاڅېدلي دي او دا امت نور راویښ سوی او لاس په کار سوی دی. د دې بله ښه بېلګه موږ د لوی څښتن دین ته د ډېرو نامسلمانو وګړو داخلېده ګڼلای سو.سره د دې چي دا هلي ځلي اوس هم کافي نه ګڼو. ځکه زموږ مسلمان امت تر دې ډېر ځواک لري چي باید په زیاته پیمانه یې په کار واچوي.

٥- په تاریخ کي داسي ډېر مهالونه راغلي دي چي مسلمانانو د لوی څښتن سره له خپلو ژمنو څخه مخالفت کړی او له سمي لاري او شریعت څخه ګوښه سوي دي، چي له امله یې په خواریو اخته سوي او د ډول ډول ظلمونو ښکار سوي دي. چي بیا لوی څښتن رحم پر کړی او داسي مجددین او لارښوونکي یې ورته لېږلي چي د دوی د دین او دنیا چاري یې سمي کړي دي او خلک یې د ډول ډول بدمرغیو، خواریو،

ظلمونو او شرکياتو او بدعاتو له لومو څخه ژغورلي دي. چې
پر دې بنسټ موږ بې له کوم شک او تردیده ويلای سو چې را
تلونکې د دې سپېڅلي دين ده، او غلبه، ستر توب او عزت
به هرو مرو د لوی څښتن ﷻ د ښو بنده ګانو او اولياوو وي.
آيا لوی څښتن نه دي فرمايلي؟ په داسي حال کي چې هغه له
خپلي ژمني نه اوړي:

﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾﴾ [الروم: ٤٧].

ژباړه: «او پر موږ د مومنانو مرسته لازمه ده».

او تر لوی څښتن به نو بل رشتينی څوک وي؟

خوپوښتنه داده چې دا به کله وي؟ دا به نن وي، سبا او که کلونه وروسته؟ استاد محمد قطب وايي: «په دغه ورځ به خلک دين ته ور وګرځي او اسلام به ومني او دا د بشر تر ارادې ستر ځواک باله سي، ځکه چې دا د هغه سنت او کړندود څرګندونکی دی چې خدای تعالی په فطرت کي نغښتی دی او پرې ايښی يې دی چې په نفوسو کي عمل وکړي او کله چې دغه ورځ راسي نو بيا د عقايدو په حساب د بشر د يوه توکم يا توکمونو عمر څه معنا لري؟ په دې حساب دا مهمه نه ده چې دا چاري کله پېښيږي. مهمه دا ده چې دا هرو مرو پېښيږي. دا هله پېښيږي چې لوی څښتن وغواړي او بشريت ته يې لا فنا او نابودي مقدره کړې نه وي. او کله چې دغه ورځ راسي او هغه هرو مرو ان شاء الله راتلونکې ده نو څه شي به د اسلامي توکمونو د دې ګردو قربانيو سره برابر سي؟ البته هيڅ!»[1].

---

١ – هل نحن مسلمون؟ ٢١٦ مخ.

خو آيا د لوی ښتن دا نصرت به د اورښت د څاڅکو غونـدي را نازلیږي؟ او مسلمانان به سره له دې چي هیڅ نه لاس پـه کـار کيـږي او همداسي لاس تر زنه به ناست وي او د خپـل بـري لپـاره بـه هـيڅ هلي ځلي نه کوي دا نصرت به ورپه برخه سي؟ نه داسي هيڅکلـه نـه ده. په دې هکله د قرآن کريم جواب ته پام وکړئ:

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ﴾ [يوسف: ۱۱۰].

ژباړه: «ای پيغمبره! پر خپلو دروغجن ګڼونکو باندي د بري او نصرت په باب تلوار مه کوه. ځکه چي تر تا دمخه هم پیغمبرانو ته، د هغه حکمت له مخي چي موږ يې په پام کي لرو، سمدستي نصرت نه دی ورغلی» ان تر دې پوري چي کله پيغمبران له خلکو څخه نهيلي سول او خلکو هم دا وانګیرله چي دعذاب په باب هغو ته درواغ ويل سوي وه، نو په ناڅاپي ډول پيغمبرانو ته زموږ مرسته ورسيدله.

دا په کايناتو کي د لوی ښتن هغه سنت او کـړنلار ده چـي هـيڅ بدلون نه مومي. د لوی ښتن خوښه ده او دغسي پرېکړه يې کړې ده چي دغـه ديـن د خپلـو اوليـاوو او دوسـتانو د انـدامونو او سـرونو پـر هډوکو قايم کـړي او پرېکـړه يـې کـړې ده چـي د لارښـووني ډېـوې د هغو نېکو شهيدانو په وينو بلي کړي چي د دې دنيا ژوند يې د آخرت په تل تر تله ژوند پلورلی دی.

قال الله تعالی:

﴿أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤﴾ [البقرة: ۲۱۴].

ژباړه: «(ای مسلمانانو!) آیا تاسي داسي ګڼلې ده چي جنت ته به (هسي سلابلا) ننوزئ؟ په داسي حال کي چي تر اوسه لا پر تاسي باندي هغسي حالات نه دي راغلي، لکه پر هغو مسلمانانو چي راغلي وه چي تر تاسي دمخه تېر سوي دي. پر هغو ستونزي او کړاوونه راغله، ولړزول سول، ان تر دې چي د وخت پیغمبر او د هغه مسلمانو ملګرو وویل چي: «د الله مرسته به کله راسي؟»، (په هغه وخت کي هغو ته ډاډېينه[تسلی] ورکړه سوه) چي خبر سئ چي د الله مرسته نژدې ده».

دغه راز د لوی څښتن لارښوونه ده:

﴿أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢﴾ [آل عمران: ١٤٢].

ژباړه: «(ای د محمد اصحابو) آیا تاسي ګڼئ چي جنت ته به همدا سي (سلابلا؛ یوازي د ایمان راوړلو په ادعاکولو سره) ننوزئ؟ (او په جنګ جګړو او ستونزو او سختیو به ونه ازمایل سئ). حال دادی چي الله په تاسي کي لا جهاد کوونکي نه دي ازمایلي او نه یې (د دښمنانو په وړاندي په ټينګار او مقاومت کي) صبر کوونکي (او ثابت قدمه کسان) ازمایلي دي».

عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ: شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ. قُلْنَا لَهُ: أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا أَلَا تَدْعُو اللهَ لَنَا؟ قَالَ: «كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهِ فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ أَوْ عَصَبٍ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ

دِينِهِ وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أَوْ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ»[۱].

ژباړه: حضرت خباب بن ارترضي الله عنه وويل: موږ (د کفارو او مشرکانو له ظلم څخه) رسول اللهﷺ ته په شکايت ورغلو، په داسي حال کي چي هغه د کعبې شريفي سيوري ته پر يوه پټو تکيه وهلې وه ناست وو(او موږ د مشرکانو له لاسه د ربړو او کړاوونوسره مخامخ سوي وو) موږ هغه ته وويل: ولي لوی څښتنﷻ ته پردې کافرانو باندي زموږ د نصرت دعا نه کوې؟ هغه کښېنستی او په داسي حال کي چي مخ يې سور اوښتی وو وفرمايل: په هغو کسانو کي چي تر تاسي دمخه تېر سوي دي يو سړی وو چي مځکه به يې ورته کينل او هغه به يې پکښې اچاوه او اره به يې پر سر ور لګول او دوه ځايه کاوه به يې، خو بيا به هم دغه عذاب هغه له خپله دينه نه ګرځاوه. دغه راز به يو سړی وو چي د اوسپني په ږمونځاوه او ږمونځ به يې له غوښو څخه هډوکو ته ورسېده. خو بيا به هم دې کار له خپله دينه نه اړاوه. په خدای قسم چي دا دين بريالی کيږي. تر دې چي يو سپور به تنها له صنعا څخه حضر موت ته ځي او له لوی څښتن پرته به له هيچا څخه نه بېريږي. او چوپان په د خپلو پسونو په هکله له شرمښ پرته له بل چا څخه نه بېريږي، خو تاسي پر مشرکانو باندي د عذاب د نازلېدو په هکله تلوار کوئ.

او د رسول اللهﷺ ژوند، کړه وړه او سيرت پر دې باندي ښه شاهد دی. تاسي فکر وکړئ چي رسول اللهﷺ له مشرکينو، يهودو،

---

۱ - بخاري، کتاب المناقب، باب علامات النبوة، ۳٦۱۲ حديث.

کفارو او منافقينو څخه ځوني تکليفونه او کړاوونه وليدل ان چې طايف ته يې پر پښو سفر وکړ خو چې چا يې خبره وانه وريده بېرته غمجن او اريان او پريشان ځيني راوګرځېد او نه پوهېدى چې چيري ولاړ سي. دغه راز نور داسي ډول ډول زړه بوږنوونکي کړاوونه پر تېر سول چې په اورېدو يې د انسان زړه سخت تکان خوري. همدغسي صحابهٔ کراموﷺ ډېر سخت او ډول ډول کړاوونه او عذابونه وليدل، خو د دې ټولو سره سره اسلام کامياب او سرلوړى سو او د لوى څښتن کلمه لوړه سوه او په دې هکله د هغه ژمنه رشتيا سوه.

نو کله چې مسلمان پوه سي چې سره د دې چې حضرت رسول اللهﷺ ته ډول ډول زجرونه او تکليفونه ورکول کېدل خو بيا هم هغه د اسلامي بلني د تبليغ او خپرېدو په لار کي خپلي هلي ځلي پرې نه ښودې، نو د دين د نصرت او خپرېدو ضرو رت ورته څرګنديږي. او په دې لار کي د هغه پيروي زموږ څخه غوښتنه کوي چې هغه څه چې زموږ په وس کيږي او هغه مالي، بدني او فکري ښندني چې د دين د بري او نصرت او نشر او خپرېدو په لار کي موږ ترسره کولاى سو بايد پرې يې نهږدو. او بايد د دې ټولني د ارزښتونو د خوندي کولو او په هغې کي د ناخوالو او ناسمو کارونو او د شريعت سره د مخالفو چارو د سمولو او اصلاح کولو لپاره رغندي هلي ځلي پر لار واچوو.

خو موږ چې هر څوني هلي ځلي وکړو بيا هم د لوى څښتن د سپېڅلو پيغمبرانو، په سر کي د هغو د خاتم حضرت محمدﷺ د هلو ځلو په پرتله ډېري لږ دي. راځئ د هغه سړي هلو ځلو ته ځير سو چې پيغمبر هم نه وو:

﴿وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢٠﴾ [يس: ٢٠].

ژباړه: «په دې ترځ کې د ښار له لېرې کونښې څخه يو سړی په منډه راغی او ويې ويل: ای زما قومه ! د رسولانو پيروي غوره کړئ».

تاسې وګورئ چې هغه له يوې لېرې سيمې څخه ان سپورنه، بلکې پلې ورغی څو حق او سپينه خبره بيان کړې او ځير سئ چې ان خپل قوم ته يې د دعوت د رسېدو او د هغو د اصلاح هيله پس له مرګه لا هم درلوده:

﴿قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ٢٦ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٧﴾ [يس: ٢٦-٢٧].

ژباړه: «(په پای کې هغوخلکو هغه وواژه او) هغه ته وويل سول چې جنت ته ننوځه، هغه وويل: ((کاشکې زما قوم ته معلومه وای چې زما رب د څه شي له امله ماته بخښنه وکړه او زه يې په عزتمندو خلکو کې داخل کړم))».

دا د لوی څښتن حکمت دی چې د اسلام د دعوت لار يې ستونزمنه او اغزنه کړې ده. ښايي څوک پوښتنه وکړي چې لوی څښتن ولې په دې لار کې خلک په ابتلا اخته کوئ او ولې يې زوروي؟ او څله يې د دعوت او بلنې لار سخته کړې او له کړاوونو ډکه کړې ده؟ او لوی څښتن چې پر هر څه قادر او ارحم الراحمين دی، نو ولې داسې کوي؟

جواب دادی چې بې شکه چې د لوی څښتنﷻ حکمت همدغسې راغلی دی او هغهﷻ له خپله کاره نه پوښتل کيږي. خو د

اللهﷻ په سپېڅلي کتاب کې ځینو دغو حکمتونو ته اشارې سوي دي.
چې موږ یې دلته ځیني په لنډون سره بیانوو:

1- لوی څښتن په دې لار کې خلک ځکه په ابتلا اخته کوي او زوروي یې؟ او د دعوت او بلني لار یې ځکه سخته کړې او له کړاوونو ډکه کړې ده چې الله تعالی خپل رشتیني او نارشتیني بنده ګان سره بېل کړي.

لوی څښتن فرمايي:

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ مِنكُمْ وَيَعْلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢﴾ [آل عمران: ١٤٢].

ژباړه: «آیا تاسي داګڼلې ده چې همداسي به جنت ته ولاړ سئ په داسي حال کې چې لاتراوسه پوري الله دا نه ده لیدلې (دا ازمیښت یې نه دی کړی) چې په تاسي کې څوک هغه خلک دي چې دهغه په لار کې جهاد کوونکي او صبر کوونکي دي».

دغه راز فرمايي:

﴿مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلْخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِ﴾ [آل عمران: ١٧٩].

ژباړه: «الله به مومنان په دې حالت کې هیڅکله پرې نه ږدي چې تاسي اوس پکښي اوسئ. هغه به سپېڅلي خلک له ناپاکو خلکو څخه بېل کړي».

او دا له لویو او سترو حکمتونو څخه دی. ځکه که د دعوت لار اواره او آسانه وای، نو هر هوسايي خوښوونکي او ضعیف النفس انسان به پر روانېدلای. خو تنبلان او راحت خوښوونکي دي پوه سي چې دوی ته په دې صف کې ځای نسته. نو ښه داده چې اوس لا له

دې اورشو څخه ګوښه سي. که نه پېښي به د دوی له شتون څخه د دعوتګرانو صفوف پاک او تصفیه کړي.

2- همدا راز لوی څښتنﷻ خلک ځکه په ابتلا اخته کوي چي د ایمان څښتنان څرګند کړي او ځینو بندهګانو ته د شهادت درجه ورکړي، لکه چي فرمایي:

﴿إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠﴾ [آل عمران: ١٤٠].

ژباړه: «اوس که تاسي ټپي سوي یاست، نو تردې دمخه ستاسي دښمنه ډله هم دغسي ټپیان سوي دي. دا د زمانې خوږې او ترخې دي چي موږ یې د خلکو ترمنځ اړوو را اړوو. پر تاسي (د احد د جګړې د ماتي) دغه پړاو ځکه راوستل سو چي الله د ایمان څښتنان څرګند کړي او له تاسي څخه ځینو ته د شهادت درجه ورکړي. او الله ظالمان نه خوښوي. او هغه په دې ازموینه سره د مومنانو پاکول او سپېڅلي کول او د کافرانو ځپل غوښتل».

دغه راز فرمایي:

﴿ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤﴾ [محمد: ٤].

ژباړه: «دغه دی ستاسي دکولو کار. که الله غوښتي وای نو په خپله به یې له هغو څخه غچ اخیستی وای خو (دغه کړنلاره هغه د دې لپاره غوره کړې ده) تر څو چي تاسي یو دبل په وسیله وازمایي، او کوم کسان چي دالله په لار کي ووژل سي الله به دهغو عملونه هیڅکله ضایع نه کړي».

3- همدا شان لوی څښتن ځکه خلک په ابتلا اخته کوي چي

هدغـه ابـتلا او کړاوونـه جنـت تـه د ننوتـو اسـباب دي، لـوی څښتن فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ﴾ [التوبة: ۱۱۱].

ژباړه: «حقيقت دادی چي الله له مومنانو څخه دهغونفسونه او دهغو مالونه دجنت په بدله کي رانيولي دي، هغوی دالله په لار کي جنګېږي نو وژني او وژل کېږي، له هغوسره (دجنت وعده) دالله پر ذمه يوه کلکه پخه وعده ده، په تورات او په انجيل او قرآن کي».

دغه راز فرمايي:

﴿أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤﴾ [البقرة: ۲۱۴].

ژباړه: «(ای مسلمانانو!) آيا تاسي داسي ګڼلې ده چي جنت ته به (هسي سلابلا) ننوزئ؟ په داسي حال کي چي تر اوسه لا پر تاسي باندي هغسي حالات نه دي راغلي، لکه پر هغو مسلمانانو چي راغلي وه چي تر تاسي دمخه تېر سوي دي. پر هغو ستونزي او کړاوونه راغله، ولړزول سول، ان تر دې چي د وخت پيغمبر او د هغه مسلمانو ملګرو وويل چي: «د الله مرسته به کله راسي؟»، (په هغه وخت کي هغو ته ډاډېينه [تسلی] ورکړه سوه) چي خبر سئ چي د الله مرسته نژدې ده».

4- لوی څښتن په دې لار کي ځکه خلک د کړاوونو سره مخامخ کوي او د دعوت او بلني لار يې ځکه سخته کړې او له بخولو ډکه کړې ده چي د الله تعالی بنده ګانو ته پر دې باندي اجـر او

ثواب ور په برخه سي، لکه چي فر مايي:

﴿مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُواْ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ١٢٠﴾ [التوبة: ١٢٠].

ژباړه: «د مديني اوسېدونکو او د شاوخوا سارايانو ته دا هيڅکله نه ښاييدله چي دالله پيغمبر يې پرې ايښى او پر کور ناست واى او له هغه څخه په بې پروايى سره د خپلو خپلو ځانونو په فکر کي سوي واى، ځکه چي داسي به هيڅکله نه وي چي هغوى دالله په کار کي د لوږي تندي او بدني تکليف څه کړاو وګالي، او دحق دمنکرانو چي کومه لاره بده ايسي هغوى پرې کوم ګام واخلي، او له کوم دښمن څخه (چي له حق سره يې دښمني وي) څه غچ واخلي او دهغه په بدل کي هغو ته يو نېك عمل ونه ليکل سي، دا باوري ده چي الله دښو خلکو دخدمت حق نه ضايع کوي».

5- لوى ښتن په دې لار کي ځکه خلک زوروي او د دعـوت او بلني لار يې ځکه ستونزمنه کړې ده چي الله تعالى په دې توګه دخپلو بنده ګانو توبه قبوله کړي او بدۍ او ناوړه کارونه يې ور معاف کړي، لکه چي فرمايي:

﴿لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِى سَاعَةِ ٱلْعُسْرَةِ مِنۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُۥ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ١١٧﴾ [التوبة: ١١٧].

ژباړه: «الله، پېغمبر او هغو مهاجرینو او انصارو ته بخښنه وکړه چې هغو په ډېر تنګ وخت کې د پېغمبر ملګرتیا وکړه، که څه هم چې له هغو څخه د ځینو زړونه د کوږوالي خواته مایل سوي وه (خوکله چې هغو ددې انحراف پیروي ونکړه، بلکې د پېغمبر ملګرتیا یې وکړه، نو الله هغوی معاف کړل، بې شکه چې له دغو خلکو سره دهغه چلند دخواخوږۍ او مهربانۍ دی».

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥﴾ [آل عمران: ١٩٥].

ژباړه: «نو د هغو پروردګار، د هغو دعا قبوله کړه (او ورته ویې ویل) چې: «زه په تاسي کې د هیچا (صالح) عمل، نارینه وي که ښځینه، نه ضایع کوم. تاسي ټول (په دیني ورور ګلوي کې او د اعمالو په منلو او پر هغو باندې په ثواب او بدله کې) یو شاني(یو د بل غوندې) یاست، نو هغو خلکو چې (د الله د رضا لپاره) هجرت وکړ(وطن یې پرېښود) او له خپلو کورونو څخه وایستل سول او زما په لار کې یې تکلیفونه وګالل. او کومو چې (د دین د ننګې او نصرت او د اعلاء کلمة الله لپاره) جګړه وکړه او ووژل سول، زه به خامخا د هغو ټولو ګنهونه معاف (او داسي ور پټ) کړم(لکه په دنیا کې چې مي ور پټ کړي وه) او خامخا به یې داسي باغونو ته دننه کړم چې تر (مانیو اوونو) لاندې یې ولې بهیږي. دا ګرده به د الله له لوري انعام (ثواب، بدله او مکافات)وي او د الله سره تر ټولو ښه انعام دی».

6- لوی څښتن د اسلام د ننګي او هغه ته د دعوت او بلني لار ځکه سخته کړې او له کړاوونو ډکه کړې ده چي د دې لاري لارویانو ته هدایت ورپه برخه کړي او د حق د لاري د لارویانو سره د تللو توفیق ورکړي. لکه چي فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩﴾ [العنكبوت:٦٩].

ژباړه: «کوم کسان چي زموږ په لار کي جهاد وکړي هغو ته به موږ خامخا خپلي لاري ورو ښیو او په باوري ډول الله د نېکچارو ملګری دی».

دغه راز فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤﴾ [محمد: ٤].

ژباړه: «او کوم کسان چي دالله په لار کي ووژل سي الله به دهغو عملونه هیڅکله ضایع نه کړي».

## په دې باندي د پوهېدو اغېز چي راتلونکې د اسلام ده

په دې باندي پوهېده چي راتلونکې د اسلام د سپېڅلي دین ده، ډېره لویه ګټه لري. که یې ګټه نه در لودای نو به په قرآ ن کریم او نبوي احادیثو کي په دونه پراخه پیمانه څرګندوني نه پر کېدلای. له دې ګټو څخه یوه داده چي انسان کار او د الله د دین په لار کي ښندنو ته هڅوي او چمتو کوي. دا ځکه که دی پوه سي چي حق به ژر بریالی سي، نو هغه به ډېر ژر خپل ژوند او کوښښونه د حق پلوي ته وقف کړي، څو د دې ویاړ ورپه برخه سي چي دی هم له هغو کسانو څخه دی چي د خدای د دین ملاتړ یې کړی وو.

داعي ته ښايي چي له دغه شعور او فکر او پوهي څخه هيڅکله بېل ونه اوسيږي. او په دې لار کي بايد قدوه او لارښود حضرت محمد مصطفی ﷺ وګڼي، لکه چي په مکه مکرمه کي يې هغو مسلمانانو ته چي کفارو زورول وفرمايل:

«وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أَوْ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ»[١].

ژباړه: په خدای قسم چي دا دين بريالی کيږي. تر دې چي يو سپور به تنها له صنعا څخه حضر موت ته ځي او له لوی ښښتن پرته به له هيچا څخه نه بېرېږي. او چوپان به د خپلو پسونو په هکله له شرمښ پرته له بل چا څخه نه بېرېږي.

دلته نو دوې چاري دي چي بلونکی (داعي) يې بايد په پام کي ونيسي.

لومړی: دا شرط نه ده چي داعي به پر کفر باندي د اسلام نصرت او بری په خپلو سترګو ويني. په دغسي مواردو کي د دغسي کسانو نهايت او انجام د هغه حکمت له مخي چي لوی ښښتن په پوهېږي

د اصحاب الاخدودو غوندي کيږي. خو اجر او ثواب يې هدر او بې ځايه نه ځي او د لوی ښښتن سره خوندي دی.

دا د زمانو او پړاونو له پلوه دي. اما په عامه توګه دا خبره حتمي ده چي د اسلام مبارک دين خامخا بريالی کيږي، او د خدای لور ته دعوت هرو مرو لوړتيا مومي، صرف مسأله د وخت ده.

---

١ – بخاري، کتاب المناقب، باب علامات النبوة، ٣٦١٢ حديث.

دوهمه: داعي ته نه ښايي چې وګڼي چې هغه اسلام ته برى ور په برخه کړی او دين ته يې عزت بخښلی دی. ځکه که دی دې کار ته ملا ونه تړي نور کسان به پيدا سي چې دې چاري ته ملا وتړي، خو کله انسان د دين څه خدمت کوي د ځان لپاره يې کوي او خدای تعالی د ده له خدمته غني او بې نيازه دی، لکه چې لوی څښتن فرمايي:

﴿وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦﴾[العنکبوت:٦].

ژباړه: «هر څوك چې مجاهده وکړي دخپل ځان دښېګڼي لپاره به يې وکړي، يقيني ده چې الله له مخلوقاتو څخه بې نيازه دی».

﴿ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤﴾ [محمد: ٤].

ژباړه: «دغه دی ستاسي دکولو کار. که الله غوښتي وای نو په خپله به يې له هغو څخه غچ اخيستی وای خو (دغه کړنلاره هغه د دې لپاره غوره کړې ده) څو تاسي يو د بل په وسيله وازمايي، او کوم کسان چې د الله په لارکي ووژل سي الله به دهغو عملونه هيڅکله ضايع نه کړي».

په پای کي ښايي يو پوښتونکي وپوښتي او ووايي چې څنګه به را تلونکې د اسلام وي په داسي حال کي چې د هغه دښمنان له هره لوري پر را چاپېره سوي دي؟ او د اسلامي غورځنګونو پر مشرانو او د خدای د لاري پر بلونکو يې داسي بده ورځ راوستې او ډول ډول عذابونه يې پر مسلط کړي دي؟ او څنګه به راتلونکې د اسلام وي چې دښمنان اټومي او نوري ډول ډول پر مختللي وسلې ولري او مسلمان يې نه لري او خلع سلاح دي؟

د دې پوښتنو جوابونه:

- دې پوښتونکي دا هېره کړې ده چې هغه څوک چې مسلمانان بريالي کوي، هغه الله پاک دی، نه د مسلمانانو جد او جهد او ځواک او نه نور څه. الله فرمايي:

﴿قَٰتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾﴾ [التوبة: ١٤].

ژباړه: «د هغو سره وجنګېږئ، الله به ستاسي په لاسونو هغو ته سزا ورکړي او هغوی به ذليل او خوار کړي او د هغو په مقابل کي به ستاسي مرسته وکړي او د ډېرو مومنانو زړونه به يخ کړي».

لوی څښتن خپل تدبير په کار اچولی دی او مسلمانان د لوی څښتن د ارادې او مشيت د پلي کېدو لاملونه او اسباب دي.

﴿فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبْلِيَ ٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾﴾ [الأنفال: ١٧].

ژباړه: «(ای مومنانو!) حقيقت دادی چې تاسي هغوی (مشرکان) ونه وژل، بلکي الله هغوی ووژل او (ای پيغمبره!) تا ونه ويشتل، بلکي الله وويشتل (او د مومنانو لاس چې په دې کار کي په کار واچول سو) نو دا د دې لپاره وو چې الله مومنان له يوې ډېري ښې ازموينې څخه په بري سره تېر کړي (او په جهاد سره يې لوړو درجو ته ورسوي).، په باوري توګه الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی».

- دغه راز دې پوښتونکي دا هېره کړې ده چې ټول هغه موجودات چې په آسمانونو او مځکه کي دي د لوی څښتن په تسبيح ويلو بوخت دي. په دې ډله کي د دغو کفارو اټومي وسلې او بندي خانې او داسي نور هرڅه د لوی څښتن ثنا

وايي.

- همدا شان دغه پوښتونکي هېره کړې ده چې کله چې لوی څښتن د يوه شي د رامنځ ته کولو يا کار د تر سره کېدو اراده وکړي، نو ور ته ووايي چې سه! نو هغه همدستي رامنځ ته يا ترسره سي. لکه چې فرمايي:

﴿وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ٥٠﴾ [القمر: ٥٠].

ژباړه: «او زموږ حکم يوازې يو حکم وي او هغه دسترګې په رپېدو کې عملي کېږي».

- او همدغسې پوښتونکي هېره کړې ده چې زموږ د دين دښمنان د پرمختګ او لوړتيا دغې کچې ته په خپلو بشري هلو ځلو رسېدلي دي او دا يوازې د يوې ډلې په برخه نه د ي، بلکي د تاريخ حرکت نه درېږي. مسلمانان هم کولای سي چې د اسلامي اصولو د خوندي کېدو سره سم د علمي او مادي پرمختګ لار ووهي، بلکي کولای سي چې هماغسې چې له دوی پرته نور د تمدن او تعالیٰ لوړ مقام ته رسېدلي دي، دوی هم ورسېږي.

نو هر څوني چې دښمنان اسلام ته دسيسې جوړې کړي او د هغه سره جګړې ته يوموټی او چمتو سي او هرڅوني چې د اسلام د بلونکو په وړاندې خنډونه رامنځ ته کړي او ويې کړوي، آوازونه يې خفه کړي او ويې وژني بيا هم لوی څښتن د خپل دين ساتونکي او بريالی کوونکی او د خپلې کلمې (اسلام) لوړونکی دی. او هغه اسلام چې د قريشو، يهودو، د عربو د مشرکينو او د فارس او روم او صليبيانو او مغولو له هولناکو تېريو او بريدونو او ناتارونو څخه

بریالی را ووتی، نن مهال د ختیځ او لویدیځ د ځواکونو د ډول ډول تېریو سره مخامخ دی او همدا راز د هغو دښمنانو سره هم مخامخ دی چي زموږ له توکمه څخه دي او زموږ په ژبه خبري کوي.

﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢١﴾ [المجادلة: ٢١].

ژباړه: «الله ليکلي دي چي زه او زما پيغمبران به هرومرو لاسبري سو په واقع کي الله لاسبری او زورور دی».

لوی څښتن په خپله وعده کي رشتینی دی او د توري شپې روڼ سهارد هغه لیدونکي ته ډېر نژدې دی:

﴿وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنَّا عَٰمِلُونَ ١٢١ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ١٢٢ وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٢٣﴾ [هود: ١٢١-١٢٣].

ژباړه: «هغو خلکو ته چي ایمان نه راوړي ووایه چي تاسي په خپله کړنلاره فعالیت کوونکي اوسئ او موږ به یې پر خپله کړنلاره کوو، دچارو پای ته تاسي هم سترګي پر لار اوسئ او موږ هم سترګي پر لار یو. په آسمانونو او مځکه کي چي څه پټ سوي (رازونه) دي ټول دالله په وس او واك کي دي او ټوله معامله دهمغه لوري ته ورګرځول کیږي. نو ته د هغه بندګي وکړه او پر هغه توکل ولره، څه چي ته کوې ستا رب له هغو څخه بې خبره نه دی».

## د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالک (همت)**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمريز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کي يې خصوصي زده کړې کړې دي.
- د ډاکټر نجيب الله د واکمن کېدو په لومړيو کي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو. لومړی په کندهار کي اوسېدی او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

۱- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ ل. کال خپره سوې ده.
۲- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ ل. کال خپره سوې ده. په ۱۳۸۹ ا. کال دوهم ځل خپره سوه.
۳- زموږ د قبلې تاريخ (دمکې مکرمې تاريخ) په۱۳۸۵. کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.
٤- زموږ د نبي مېنه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ ل. کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

٥- ادب او ادبي کره کتنه په ١٣٨٥ل.کال خپور سو.
٦- د مقالې ليکلو اصول په ١٣٨٥ل.کال خپور سو. په ١٣٨٨ کال دوهم ځل خپور سو.
٧- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ١٣٨٦ل.کال خپور سو.په ١٣٩٠ل.کال دوهم ځل خپور سو.
٨- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ١٣٨٦ل.کال خپره سوه.
٩- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ١٣٨٧ل.کال خپور سو.
١٠- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ١٣٨٧ل.کال خپره سوه.
١١- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ١٣٨٨ل.کال خپره سوه.
١٢- د کلمې شريفي حقيقت (ژباړه) په ١٣٨٨ل.کال خپره سوه.
١٣- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ١٣٨٨ل.کال خپور سو.
١٤- د حق او باطل جګړې، په ١٣٨٨ل.کال خپور سو.
١٥- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ. په ١٣٨٩ل.کال خپور سو.
١٦- د حق او باطل د جګړې په هکله (٢٥) مقالې(ژباړه) په ١٣٨٩ل.کال خپره سوه.
١٧- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ١٣٨٩ل. کال خپره سوه.
١٨- راځي توبه وکاږو، د چاپ کار يې روان دی.

١٩- زه توبه کاږم، خو...؟ د چاپ کار يې روان دی.
٢٠- د اسلام د بري زېري د چاپ کار يې روان دی.
٢١- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ١٣٨٦ل.کال خپره سوه.
٢٢- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ١٣٨٨ل.کال لومړی ځل خپور سو.دادی اوس يې دوهم چاپ ستاسي په لاس کي دی.

پر دې سربېره يې د هيواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر: ٠٠٩٣ ٧٠٠٣٠٠١٦٧

د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:

himmat_ afg@yahoo.com